علمي ـ څېړنیز کنفرانس

څېړنپوه محمد نبي صلاحي

# د فابل (Fable) پېژندنه اوپه ادبیاتوکې يې ونډه

# Introduction to Fable and its contribution to literature

**Professor M. Nabi Salahi**

## Abstract

Fables are stories that are told and written in symbolic satire and anecdotal language in the language of animals for advice and counsel. Such stories, some of which have been translated into Pashto literature and some of which can be considered as the work of Pashtun writers and poets. Therefore, researching these stories cannot be done by giving a conference alone

Fables are stories that are told and written in symbolic satire and anecdotal language in the language of animals for advice and counsel. Such stories, some of which have been translated into Pashto literature and some of which can be considered as the work of Pashtun writers and poets. Therefore, the research of these stories cannot be concluded by giving a single conference, but young researchers should write numerous monographs and works on fable stories and this topic should be at the forefront of our future research.

Another type of fable is a parable, which is called an example. A parable is a short narration in which implicit similarities and analogies are described in detail with great accuracy and comprehensive detail, such as: send a proverb.

## لنډیز

پر فابلونه هغه کیسې دي چې په رمزي طنز او حکایتي طرز د حیواناتو په ژبه د پند او نصیحت په منظور ویل شوې او لیکل شوې وي. دا ډول کیسې، څه د ژباړې له لارې پښتو ادبیاتو ته راترجمه شوې او څه هم د پښتنو لیکوالو او شاعرانو خپل تخلیق باله شي. له دې امله د دغو کیسو څېړنه، یواځې په یوې مقالې لیکلو سره نه شي خلاصه کېدلای، بلکې باید ځوان څېړونکي د فابل کیسو په اړه ګڼ شمېر مونوګرافونه او آثار ولیکي او دا موضوع، باید زموږ د راتلونکو څېړنو په سرکې وي.

د تمثیل یوه بله نوع پارابل(Parable ) دی چې مثال راوړل، مثال تېرول او مثال ګویي ورته وایي. پارابل یو لنډ روایت دی چې په هغه کې ضمني ورته والی او مشابهتونه، په ډېر دقت او هراړخیز تفصیل سره جز په جز بیانېږي، لکه: د ارسال المثل صنعت.

## سریزه

فابل(Fable) حکایتي طرز نظمونه اورمزي کیسې دي چې په افغانستان، سیمه او نړۍ کې ګڼ شمېر مینه وال او علاقمندان لري. په سیمه او نړۍ کې د فابل په اړه ښایسته ډېرڅه لیکل شوي دي، مګر په پښتو ادبیاتو کې د فابل مناسبه تیوریکه پېژندنه، نه وه شوې، له دې امله مې په دغه علمي . څېړنیزه مقاله کې، لومړی د فابل پر لغوي او اصطلاحي معنا باندې خبرې کړې دي او له هغه وروسته مې، د فابل نورې ځانګړنې بیان کړې دي. په پښتو ادبیاتو کې مې د فابل ونډه ښودلې او نمونې مې هم وړاندې کړې دي. له ځوانو څېړونکو نه زموږ هیله دا ده چې په راتلونکي کې د فابل طرز نظمونو او رمزي کیسو لور ته خپله پاملرنه ډېره کړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې موضوع د څېړنې اهمیت او مبرمیت دا دی چې نن سبا د ژباړې له لارې هم، د دغه شان کیسو ترجمې ته د ځوان نسل پاملرنه زیاته شوې ده او په پښتو ژبه کې هم، د حیواناتو په ژبه د کیسو لیکلو او منظوم کولو لور ته، د ځوانو کیسه لیکوالو او شاعراتو رجحان ډېر شوی دی، نو ځکه په مشخصه توګه پرې خبرې کول، ځانګړی علمي ارزښت لري.

## د څېړنې موخې

د ا نوې او تازه موضوع ده او تر اوسه پورې په دې اړه ، ان د یوې مقالې په کچه هم څېړنه، نه ده شوې. زموږ پښتو ادبیات که لیکني دي او یا ولسي ادبیات، له دغه ډول کیسو نه ډک دي، له دې امله د دې موضوع څېړنه او په دې اړه د یو څه لیکلو او وړاندې کولو مقصد دا دی چې د دې مهمې موضوع لور ته د ځوانو څېړونکو پاملرنه زیاته شي.

## د څېړنې میتود

په دې څېړنه کې له تشرېحي- تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

**اصلي متن**

لومړی به د فابل لغوي معنا او اصطلاحي مفهوم وړاندې کړو او بيا به يې پر ځانګړتياوو او نمونو باندې خبرې وکړو: ((فابل لاتيني ريښه لري، له Fabula نه اخيستل شوې ده او لغوي معنا يې بيا ويل دي. په روايت کولو باندې ټينګار کوي او په ادبي اصطلاح، فابل ساده او لنډې کيسې دي چې معمولاً يې شخصيتونه حيوانات دي او د هغو هدف د يوه اخلاقي يا معنوي اصل او حقيقت ښوونه( تعليم) او زده کړه ده. په فابل کيسو کې،کله ناکله د طبيعي موجوداتو او يا خارق العاده موجوداتوکيسې هم راځي. دا اصطلاح د نړيوالو افسانو او اسطورو لپاره هم په کار وړل کېږي.)) (۶: ۶۷۳ مخ)

((ابادیس)) ډکشنري، فابل کيسه او حکايت بللی دی. د فابل له لغوي معنا او اصطلاحي مفهوم نه هم داسې څرګندېږي چې فابل په اصل کې د حيواناتو په ژبه کيسه او حکايت دی او دا په حقيقت کې يو ډول تمثيل دی. فابل په سيمه او نړۍ کې هغو لنډوکيسو او افسانو ته ويل کېږي چې په نظم او نثر دواړو باندې ليکلې کېږي، اخلاقي مطالب او ټولنيزې نيوکې په کې بيانېږي. د دغه ډول کيسو شخصيتونه حيوانات دي چې انساني کړه وړه لري.

په واقعيت کې ((فابلونه هغه کيسې دي چې په هغو کې حيوانات، د انسانانو عملونو ته ورته عملونه تر سره کوي. په دغو کيسو کې حيوانات ((تفکر)) کوي او ((خبرې)) کوي. د دغو حکايتونو هر يو اخلاقي بار هم وړي، يا لږ تر لږه په هغو کې د يوه ناوړه عمل غندنه او د سموالي لور ته يوه هڅونه ليدله کېږي.)) (۷: ۵۰۶ مخ)

فابل د لنډو داستانونو په چوکاټ کې بيانېږي. نوعيت يې د حيواناتو په ژبه وړاندې کېدل دي او روش يې د حکايت طرز دی. فابلونوته رمزي داستان هم ويل شوی دی. د (حکايت او تمثيل) نوم هم ور ته اخيستل شوی دی. ليکوال په داستان ليکنه کې له دغه روش نه ګټه اخلي، کاروي يې او استفاده ترې کوي.

((شوخي او مطايبه (ټوکه) هغه عناصر دي چې په ادبياتو کې له هغو نه، په لوستونکي کې د خندا او خوښۍ د رامنځ ته کېدو په خاطرکار اخيستل کېږي. په انګليسي کې يې دغه روش ته د ( Harm Less ) لفظ هم استعمال کړی دی. په دې ډول ، خلک د دوی نصيحتونو ته غوږ ږدي او دا د مطايبې پر بنسټ يو روش دی.

ګڼ شمېر پوهان په دې نظر دي چې په لنډه کيسه کې د فابل کارونه ډېره اغېزمنه ده. فابل، د ادب پېژندنې او ادبپوهنې په هغو آثارو کې چې زما له نظره تېر شوي او له هغې جملې د دوکتور سيروش شميسا په (انواع ادبی) اثرکې، د ادبي ژانر په توګه نه دی پېژندل شوی. د فابل نمونې په نظم او نثر دواړو کې شته.

فابل داسې يوچوکاټ نه لري، لکه لنډ داستان چې د يوه پلان پر بنسټ پيل، منځ او پای ولري، يعنې مشخص حد نه لري، چې د ساري په توګه ۵۰۰ کلمې دې وي. لکه لنډه کيسه چې يو چوکاټ لري او يوه پېښه د يوه کرکټر په وجود کې بيان شي او .... ، دغه شان جوړښت نه لري او يا هم د نورو ادبي ژانرونو ساختمان او (چوکاټ/ Frame ) نه لري. په فابلونو کې کوښښ د دې لپاره کېږي چې د عملونو انګېزه بيان شي. تقريباً يو ډول رمزي طنز دی.له هغو ليکوال ځانګړی هدف لري، کېدای شي د ليکوال يو مقصد شوخي او تفريح وي. د فابلونو ډېره معموله (Beast Fable) نوع، د حيواناتو فابل دی. په دغه ډول حکايتونوکې حيوانات د انسانانو استازي او د هغو د غوښتنو ويندوی دي. په فابلونوکې حيوانات، لکه انسانان داسې خبرې کوي او دغه ډول عمل کوي، په حقيقت کې فابلونه هغه حکايتونه دي چې د حيواناتو له خولې اورېدل کېږي.

د نړۍ د ولسونو په ليکنيو ادبياتو او فولکلورکې د حيواناتو تلپاتی شتون، پر رنګه او له اهميته ډک دی. د حيواناتو کیسې د هر ملت په منځ کې په شفاهي ډول موجودې وي او وروسته وليکل شوې. دغه ډول کیسې چې په انکليسي کې ورته ((فابل)) او په روسي کې (( باسن)) وايي، په ښوونځيو کې د تدريس لپاره هم غوره شوې چې په هغو کې د حيواناتو په ژبه غوره حکمتونه او روزنيز مسايل، حکيمانو او هوښيارانو د داستاني شخصيتونو په وسيله چې حيوانات وو، د ماشومانو د زده کړې او د هغوی د علاقمندی د جلبولو لپاره ګټور بللي دي. طنز ليکوالو هم له همدې روش څخه ګټه واخيسته او خپل طنزونه يې( ظاهراً) د غير انساني اتلانو په بڼه وړاندې کړل، تر څو ظالمان، رياکاران او احمقان پوه کړي او په نښه شوي کسان په غير مستقيم ډول وټکوي او رسوا يې کړي.

د دغه ډول فابلونو ډېره لرغونې نمونه، ايزوپ (Aeasop) ته منسوب فابلونه دي چې غلام و او له ميلاد مخکې يې په شپږمه پېړۍ کې ژوند کاوه. کليله و دمنه ، په فارسي ادبياتو کې د فابل ډېره عالي مجموعه ده چې د لرغوني هند د فابلونو له ټولګې پنچتترا په نامه يادېږي،اخيستل شوې ده. په ۱۷مه ميلادي پېړۍ کې (فونتن) نامي ، په فرانسه کې د دغې نوعې منظوم فابلونه وليکل او زموږ په زمانه کې جارج اوروَل په ۱۹۴۵م. کال کې خپل شهکار اثر ژوبڼ (مزرعه حيوانات. Animal Farm ) په دغه شيوه ، د يوه لوړ داستان په بڼه( صورت) وليکه. (۳: ۲۷۲ مخ)

په طنز ليکنه کې د فابل کارونه يو بل دليل هم لري او هغه دا چې:

((په هغو ټولنوکې چې حکومتي سانسور په شدت سره عملي کېږي، طنز ليکوال په واک کې د ناستو واکمنانو د پلمې لپاره تمارض کوي (ځان په ناروغې اچوي يا ځان په ټکې وهي) چې ګواکې طنز نه، بلکې افسانه يې ليکلې ده.

په فابلونوکې حيوانات د ټاکلو کرکټرونو په توګه ځان ښکاره کوي. ځينې يې د تېزهوشی، هوښيارۍ او بد اخلاقۍ نمونې دي، ځينې ډېر احمق چې تل غولېږي او له دغو غولېدلو د عبرت درس هم نه اخلي او په يوه بل موقعيت کې بيا هم غولېږي. همداسې ځينې مغرور او له خپله ځانه راضي وي. په واقعيت کې هغوی انساني چلندونه او انساني خصلتونه ننداري ته وړاندې کوي. په برياليو فابلونو کې دا ډېره مهمه ده چې د هر حيوان د طبيعت او ټاکلو انساني خصلتونو تر منځ توازن په پام کې ونيول شي. طنز ليکوالو له فابل جوړونې څخه ډېره ګټه پورته کړې ده او خپل اهداف يې په نښه کړي دي.)) (۱: ۹۷ مخ)

فابلونه اخلاقي او نيش لرونکي پيغامونه لېږدوي، په دې اړه پوهان په دې سره متفق دي چې: ((فابلونه د نورو ژانرونو (کيسو او حکايتونو ) په څېر د اخلاقي پيغامونو د لېږد په خدمت کې دي، د ځوان نسل روزنه او د پوهاوي بابونه (ترويج) يې اصلي رسالت دی. په فابلونو کې دا ضروري نه ده چې د فابلونو اتلان حيوانات وي، کله نا کله انسانان او حيوانات يو د بل په مقابله کې ليدل کېږي. د حيواناتو کيسې نړدې په ټولو ولسي او لرغونو ادبياتو کې ليدل کېږي

په برياليو فابلونو کې دا ډېره مهمه ده چې د هر حيوان په طبيعت او ټاکلو انساني خويونو کې يو توازن په پام کې ونيول شي. لوستونکی هر حيوان، لکه چې تر نظر لاندې حيوان په شان په پام کې ساتي ، په ځان او شاوخوا کسانو کې کټ مټ د هماغو اټکل هم کولای شي)). (۷: ۵۰۶ مخ)

په طنزونو کې له فابلونو نه دګټې اخيستنې روش لرۍ، لرغوني يونان ته رسېږي. په دې برخه کې ډېره غوره څېره اريستوفان وچې په دغه شان يې طنزونه وليکل. له هغه د الوتونکي(Birds) او چونګښې (Frogs) په نومونو دوه آثار په ميراث پاتې دي. د ارتورپولارد په وينا : د چاوسر (د کشيش او راهبې حکايت)، د درايدن (ګاوزه) او پلنګ او د اورويل (Orwell) ژوبڼ، د فابل ډېرې غوره نمونې دي. په دري ادبياتو کې مولانا جلال الدين محمد بلخي د حيواناتو له کيسو سوچه طنزونه جوړ کړل او په پښتو ادبياتو کې د ( عينکي اوښ ) طنزي اثر ، د فابلونو ډېرې خوندورې نمونې دي.

فابل يو ادبي محتوايي روش دی، مستقل ژانر يې نه شو بللی. په نظم او نثر دواړو کې ځان را ښکاره کوي. د لايق په(کيسې او افسانې ) اثر کې د (نيشه موږک) کيسه منظوم فابل دی. لايق طنز ليکوال نه دی، مګر دا کيسه د طنز په بڼه پښتو شوې ده.نو فابل، د نورو ادبي ژانرونو په څېر چوکاټ نه لري،ان په بشپړه توګه طنزي چوکاټ هم نه لري، بلکې د حيواناتو په ژبه محتوايي اړخونه لري. د (نيکي) په نامه پښتو ليکل شوې کيسه فابل دی، ځکه يو خو د مستقل طنز روش نه دی په کې مرعات شوی، بل دا چې د زده کړې په منظور ليکل شوې، د حيواناتو په ژبه ليکل شوې او د حيواناتو په ژبه، د انسان سترګو ته خلی وروړل شوی دی. د کاميابو فابلونو ويل او لوستل، د انسان خندا را پاروي.

«زموږ په ژبه او ادب کې قصې که شفاهي دي او يا تحريري، د نظم او نثر په بڼه موندلی کېږي چې منظومې هغه يې بيا په فورمي او شکلي لحاظ ګڼ انواع لري.» (۵:لومړی مخ)

(د قصې او افسانې) اثر د سريزې په دريم مخ کې د فابل کيسو په اړه داسې ويل شوي دي: «په پښتو ادبياتو کې په اوږدو نکلونو سربېره زموږ په شفاهي ادب کې ځينې لنډې قصې هم شته چې په هغو کې زياتره اخلاقي، انتباهي او ټوکې قصې شاملې دي او په ځينو دغو وړو قصو کې اخلاقي او اجتماعي مسايل هم په خاصو کليوالي او ولسي رمزونو کې نغښتي وي. همدارنګه، په دغو وړو قصو کې ځينې قصې د ژوېو يا حيواناتو دي چې په سمبوليک ډول د عبرت او پند دپاره ويل کېږي.

په همدې اساس، کله چې Thorburn S. S د پښتنو له ځينو سيموڅخه دغه ډول کيسې را ټولې او په انګريزي ژبه ترجمه کړې او بيا يې په خپل کتاب Bannu or our Afghan frontier; کې چاپولې ، نو يې د تصنيف له مخې پر دغو دريو لاندې ځانګو وويشلې:

۱. لومړۍ ځانګه) خوش طبع او اخلاقي کيسې (Humorous and moral)

۲. دويمه ځانګه) کوميک او طنزيه کيسې (Comic and Jocular)

۳. دريمه ځانګه - فابل کيسې دي (Fables)

دغه ډول وړې قصې او يا لنډ شفاهي داستانونه زياتره د پښتني محيط د بېلابېلو برخو د خلکو د شفاهي رواياتو زېږنده دي، خو ځينې دغه ډول کيسې له ځينو کتابو، لکه ګلستان، بوستان، منطق الطير، طوطی نامه، کليله و دمنه، الف ليلی، مثنوي معنوي، جوامع الحکايات او نورو دغه ډول قصصي او حکايتي کتابو څخه هم په را ګډې شوې دي، او زموږ محيطي عناصرو او د پښتنو د کلتور خاصو خصوصياتو داسې په کې ځان ورنغښتی دی چې اوس يې له نورو دغه ډول پښتني سوچه قصو سره پېژندنه او بېلونه يو څه ګرانه ايسي.» (۵: دريم مخ)

د (نيشه موږک) منظومه کيسه، ((د ګربه و موش)) په نامه د عبيد زاکاني(۷۷۱ يا ۷۷۲هـ ق. مړ) په کليات کې هم راغلې ده چې د موضوع په لحاظ زموږ د دغې مجموعې له دغې افسانې سره اړخ لګوي. د (نيشه موږک) کيسه داسې پيل کېږي:

يو زلی موږک له تندي نه بيتاب شو

له سوري نه را د باندې په شتاب شو

چې راووتـه نو ودرېـده لـه وېـرې

هسې نه چې پيشـو پټه وي کوم چېرې

یوه شېبه هلته ولاړ و حیراني کې

د پیشو په فکر وذکر او پرېشاني کې

وې یې څه وکړم له تندې نه مجبور یم

که خطر دی که مرګی دی زه معذور یم

یا به ځان کړم له منګي څخه سېراب

یا به کړمه دا خراب ژوندون خراب

خوار صورت به مې مرګي ته نشانه شي

که اجل و نو پیشو به بهانه شي

او که نه سېراب به راشمه سوري ته

بیا به نوی لغم پرې کمه وري ته

دا یې ووې په اوبو پسې روان شو

راغی ودرېده یو مټ ته او ایران شو

وې یې ګوره چې عجب شانې منګی دی

جوړ له خاورو هسې نه دی چې لرګی دی

ګوندې وې چې کې پیدا کړم د زړه تاب

په اوبو دژوندانه شمه سېراب

دمنګي په ګمان مټ ته په ختو شو

د مټ خولې نه چارچاپېر په ګرځېدو شو

پښه یې وښوېږده ولوېده دلاندې

په شرابو الوده شو لاندې باندې

په لامبو لامبو را وخوت د خم سر ته

په زحمت باندې راووت ترې بهر ته

دم درحاله یوه نشه وربانده راغله

دمستۍ مسته څپه وربانديږ راغله

وېره لاړه له غيرته شين زمرى شو

له غرور او حماقته لېونى شو

په بريتو کې يې پيدا د زور شغله شوه

ژوند تر پايه ورته ښکلې يوه نغمه شوه

د لذت او تکبر له لېونتوبه

بې اشوبه سر يې لاړو تر اشوبه

دی لا ناست و چې پشکه راپيدا شوه

د لکۍ په تاوېدو شوه په ګډا شوه

وې يې هرکله زما د سترګو توره

دغه لمر دی راختلی له کوم لوره

دغه څنګه يې راغلی نابېره

ما ړنده کړې چې زه نه يمه خبره

ستا راتګ ته کړی شپه ومه بيداره

بخت ته ګوره چې راځې په رڼه لاره

اوس نو وايه څه دې حال څه دې روزګار دی

بيا دې کوم جوال ته ايښی دام د ښکار دی

څوان موږک چې و مستۍ بې واکه کړی

د شرابو کيفيت بې باکه کړی

په خپل ځان يې دا ګمان شو چې زمری يم

او که نه يم نو کم تر کمه سپی يم

نو يې پرانيستله خوله او درفشان شو

له چاتۍ نه مخامخ پې ور روان شو

وې یې څرنګه جرئت کوي پیشو

چې راغلی یې دربار ته د زمرو

زه زمری یم ګوره پام که موږک نه یم

پرواګیره د پیشو او تلک نه یم

له غضبه که یوه چیغه کمه پورته

څه به کاندې وایه تښتې به کوم لور ته

ته له کومه وایه دغومره جری شوې

چې په مخه را روانه په زمري شوې

دغه دومره موږکان چې تا نیولي

په کوم حق او کوم جرئت دې ټول خوړلي

که مې کېښکودې له خولې به دې باران شي

ترې راتوی به په زرګونو موږکان شي

باید وباسې توبه او پښېمان شې

کلی پرېږدې او د غرو پلو روان شې

که نه ژامې به دې هسې کړمه ماتې

چې عبرت شي ټول عالم ته ځنې پاتې

لوی جهان به درته تنګه یو کړۍ کړم

له غضبه به دې یوه ګوله مړۍ کړم

وایه ژر شه اې بدبخته بې ادبه

ځواب راکه کنې پرې به دې کم ژبه

تاخیر مه کوه پښو له راګزار شه

وعده راکه له ظلمونو توبه ګار شه

له موږکه چې پشو واورېدې باتې

وې يې ستا له خولې رااوري دغه ګاټې

وې يې هو احمقه چوپ شه زه زمری یم

له غوصې نه سره لمبه یم لېونی یم

دا ته نه وینې صورت مې ټول رپېږي

له غضبه مې ماغزه درته اېشېږي

پیشو وخندل موږک ته وې یې جانه

راته ښکارې چې موږ شوی یې له ځانه

دا قدرت دې وایه څنګه پیدا کړی

راته ښکارې پرېشان خوب دې دی لیدلی

ته د نورو موږکانو وکالت کړې

وایه ځان به له ما څنګه سلامت وړې

اوس به وګورې د ژوند وروستنی لوبه

را بیدار به شي له خپله درانه خوبه

شېبه وروسته نیشه ولاړه موږک سم شو

ترې چاپېره د ژوندون د بقا غم شو

پیشو وویل اوس وایه څه فرمان دی

مخاطب زما زمری که موږک جان دی

موږک وویل ما بد کړي او خر شوم

خر خو ښه وي زه تر خره هم لا بدتر شوم

شرمسار یمه ما وبخښه امیره !

له دې لو بې ادبۍ له دې تقصیره

ستا مقام زما تر جرمه ډېر اوچت دی

زما په پلو کې ستا له فیضه حرکت دی

په دې کلي کې چې چېرې مورګان دي

همه واړه لاس تړلي بندګان دي

چېرې زه او چېرې ته عالي مقامه

خوله مې ماته کړې بې ستا له احترامه

پیشو وویل خبرې دې ترخې وې

خو زه پېږم د تا نه وې د نیشې وې

مګر زه ستا په نیوو یمه ماموره

پخپل قتل به ما وبولې معذوره

فکر وکه چې دا مرګ نه دی خمار دی

ژوند هر چاته یوه نیشه ده بیا قمار دی (۵: ۱۳ مخ)

د فابل نومورې منظومه کیسه هم ، پښتو ته په دومره مهارت سره را ژباړل شوې ده چې لوستونکی فکر کوي چې د نومورې پښتون شاعر خپل مال به وي، په داسې حال کې چې داسې نه ده.کیسه د ترجمې له لارې پښتو ته راغلې او بیا دلته د لوستونکو له خوا لاس په لاس شوې او لوستل شوې ده.

کوم حکایتونه چې په پښتو ادبیاتوکې د حیواناتو له خولې بیان شوي، لکه نوموړی نظم، اخلاقي او ټولنیز پیغامونه لري. دا حکایتونه د ادبي انواعو یو داسې ډول دی چې عام ولس پرې باورکوي، منطق یې د ټولنې عامو وګړو ته د منلو وړ دی او استدلال یې په ډېرې اسانۍ سره عام ولس ته خپل پیغامونه لېږدوي. دا کار د حکایت په راوي پورې هم تړاو پیداکوي چې په څه ډول حالاتو کې، له کوم ډول حکایت نه، د څه ډول پیغام لپاره استفاده وکړي.

همدا علت دی چې د شاعرانو او ادیبانو تر څنګ نورو پوهانو او فیلسوفانو، د اخلاقي مضمونونو لارښوونکو او تدریس کوونکو او د ټولنې مربیانو، له دغو حکایتونو نه پوره پوره ګټه پورته کړې ده.

له دري څخه پښتوته د فابل ترجمه شوې بېلګه:

د هغه شغال کیسه چې د رنګ په خم کې ولوېده او ځان ورته طاووس ښکاره شو

((یو شغال د رنګ په خم کې وغورځېده او په دې خم کې څه شېبه پاتې شو چې راووت، نو یې خپل پوستکی رنګ رنګ ولیده، خوشحاله شو او ویې ویل: زه یو ښکلی طاووس یم. د ده پوستکی چې لمر ته ځلېده ، شنې، سرې او ژېړې پلوشې یې کولې ، د ده هوا سر ته بوتله او د شغالانو ډلې ته را وګرځېد. ځان یې چینګ وینګ کړ چې ګواکې زه یو ښکلی طاووس یم. نورو شغالانو ترې وپوښتل : شغالګیه! څه خبره ده چې داسې هوایي شوی یې، دومره کبر دې له کومه کړ؟ دا څنګه ټول ځلېږې؟ او په څه ځان له موږ نه برګڼې. د خپلې ځلا څخه دې بلا جوړه کړې او پر موږ ځان کنجه یې. پر خپل رنګ نازېږې او موږ سپک ګڼې. ډېر داسې خلک دي چې خوشحاله ښکاري او په باطن کې هغه څه دي چې خدای پیدا کړي . رنګ شوي شغال، خپل ملاماتوونکي ته داړې جینګې کړې، مګر نه ګورئ چې څومره ښکلی شوی یم؟! تا ته

قهر درځې چې ويني، زه لکه ګلستان رنګارنګ يم. د خدای لطف پر ما شوی دی او د دنيا او دين ستن يم. نور ما ته شغال مه واياست، ځکه چې شغالان ما غوندي ښکلي نه دي. چې پر رنګ شوي شغال، نور شغالان را غونډ شول، نو ترې يې وپوښتل : که ته ځان شغال نه ګڼې، نو څه در ته ووايو؟ رنګ شوي شغال ځواب ورکړ. ما ته ښکلی طاووس ووايئ، نورو ترې وپوښتل، طاووس خو په باغونو کې ګرځي، ايا ته هلته تللای شې؟ ده ور ته وويل: زه کليو او باغونو ته کله تللای شم. نورو شغالانو بيا ترې وپوښتل: ايا ته د طاووسانو په څېر غړ ايستلی شې. ده ور ته وويل : هېڅکله نه. يوه هوښيار شغال ور ته وويل: ځان طاووس مه ګڼه، ځکه د طاووس جامه خدای له اسمانه رالېږي، په دنياوي رنګونو او خوشې دعوو شغال، نه طاووس کېږي.⁾⁾ (۲: ۵۹ مخ)

پورتنۍ په نثر ويل شوې کيسه دا را ښيي چې د دغو کيسو د مقبوليت يو علت د هغو لنډوالی دی، بل علت يې ساده والی، درېيم علت يې د پيغامونو عام والی او څلورم علت يې، په ټولنه کې د آشنا حيواناتواو آشنا شخصيتونو له خولې د انتقاد وړ پېښو بيان دی. له پېښو سره د هغو چلند او کړه وړه عام ولس ته د منلو وړ دي. کوم حکايتونه چې نړيوال پيغامونه لري، عام ولس پرې پوهېږي.

دغه شان، دا لاندې کيسه چې(چرګه او پشي) نومېږي، د قابل کيسو بنه لري، زما خپله ليکنه ده. دا کيسه په دري، اوزبيکي او انګليسي ژبو باندې هم ژباړل شوې ده او په درېوو بېلا بېلو کتابونو کې چې پښتو. انګليسي، دري. انګليسي او اوزبيکي. انګليسي چاپونو کې په ځانګړې بڼه ، په ۲۰۱۹ م کال کې ،په کابل کې د ناروې کمېټې له خوا خپره او چاپ شوې هم ده او د نوموړې کيسې له هر حالت سره رنګه انځورونه هم کښل شوي دي. دا په نثري کيسو کې د قابل کيسو يوه ښه بېلګه پېژندل شوې ده. د دې کيسې د کاميابۍ سبب دا و چې په کابل کې د سپينې اډې ښوونځي له زده کوونکو سره د دري ورځني ورکشاپ په ترڅ کې ليکل شوې ده. د کيسې ټول کلمات د کوچنيانو په ژبه ويل شوي او کوم الفاظ چې د هغو تلفظ به د نوموړو زده کوونکو لپاره سخت وو، هغه به په هماغه ځای کې اصلاح او صيقل کېدل او د هغو پر ځای به د کوچنيانو په ژبه روان اکلمات ورلوېدل او په وړ او مناسبه بڼه به په خپل ځای کې ځای پر ځای کېدل، هغه کيسه داسې ده:

## چرګه او پشي

⁽⁽يوه ورځ ماسپښين يوه غټه پشي چې شنې سترګې او تور وېښتان يې لرل او کوچنيانو به له ډېره نازه د «شينکۍ پشي» په نامه يادوله، ناڅاپه د «ګلوګلو» په نامه د يوې چرګې کور ته ورغله. هغې د چوڼ چې، چي چي، مونچي، مي چي، کي چي، لي چي ، ري چي، بينچي، سين چي، زوچي، سي چي، پي چي او تي چي په نومونو باندې ډېر بچيان لرل. هغوی په دوو ټيمونو باندې وېشل شوي وو او په يوه چارمغز باندې يې د فوټبال لوبه کوله. مور يې «ګلوګلو» په ډېرې خوشحالۍ سره د هغو ننداره کوله.

«شينکۍ پشي» چې ډېره وږې شوې وه؛ غوښتل يې د چرګې له کوره د هغې خواږه را غلا کړي. له ځانه سره يې سوچ وکړچې څنګه کولی شم، د شوروا پاتې شوني چې د چرګې او د هغې د بچيانو په کاسه کې پاتې شوي وو، غلا کړي. ورو .ورو د چرګې آشپزخانې ته ورغله او د شوروا په کاسه باندې يې بريد وکړ.

د «ګلوګلو» چرګې، پشي ته پام شو. لومړی يې خپل بچيان د پشي له مخې لرې کړل. د يوې لوېې ډبرې شاته يې پټ کړل او په قهر سره يې«شينکۍ پشي» ته وويل: ته له اجازې پرته ولې زموږ کور ته راغلې؟ ته ولې زما د بچيانو خواږه در اخلې؟

«شينکۍ پشي» خپل بريتونه تاو کړل، په غوصې سره يې وويل: ته ما پېژنې، زه څوک يم. زه په «جنګيره شينکۍ پشي» باندې مشهوره يم. زما د پنجو نوکان، زما د غاښونو په څېر تېز او ډېر تېره دي. زه تر تاسو چرګانو ډېره زوروره يم. څه چې اوس به تا له خپلو بچيانو سره وخورم! زه د تا او د تا د بچيانو خواږه، په وچ زور خپلو بچيانو ته وړم!

«ګلوګلو» چرګه ډېره عصبي شوه، چيغه يې وکړه: زما بچيان زما په شان مور لري. ته هغه نه شې خوړلی. ځه، وځه، زما له کوره ژر وځه. که دې زما په بچيانو باندې سترګې سرې کړې، زه به دې دواړه شنې سترګې په خپله سپينه مښوکه باندې، د سر له کاسې د باندې راوباسم.

«شينکی پشي» د «ګلوګلو» چرګې د دغو خبرو په اورېدلو سره پر هغې باندې برید وکړ. «ګلوګلو» پورته والوته، په خپلو پنجو سره يې د «شينکی پشي» پر مخ حمله وکړه. د «شينکی پشي» د وريځو پاسنی برخه زخمي شوه او د ((ميو ميو ميو)) چيغه يې وکړه:

وه شينګکه! وه پينګکه! راشه وګوره، «ګلوګلو» چرګه له ما سره جګړه کوي.

شينګک او پينګک چې د «شينکی پشي» ډېر نږدې دوستان وو او پنځې يې د کوني کبر(خرچنګ) په شان وې، د بام له سره د کور منځ ته ور والوتل. هغوی هم وغوښتل چې په «ګلوګلو» چرګه باندې برید وکړي. « ګلوګلو» چرګې سملاسي خپلې مور ته چې «د تاج دارې چرګې» په نامه  باندې يادېده او د بوټو شاته ويده شوې وه، ور نارې کړې:

تاجدارې مورې! هله ژر راشه، پشيانو زما په کور باندې برید کړی دی.

تاجدارې چرګې چې د خپلې لور دا سوی غږ او د نا هيلی چغې او نارې اورې؛ له خپله ځايه الوځې او په ډېرې چټکتيا سره خپل ځان د «ګلوګلو» چرګې او پشيانو منځ ته وراچوي.

«ګلوګلو» چرګه او تاج داره مور يې له يوې خوا، « شينکی پشي »، شينګک او پينګک له بله پلوه، يو د بل په وړاندې کتارونه جوړوي او جګړه دوام پيداکوي. تاج دارې چرګې، شينګک او پينګک تر خپلو پنجو د لاندې کړل او «ګلوګلو»  چرګې، په خپلې مښوکې سره د «شينکی پشي» پر شا باندې يو څو کوزارونه وکړل.

له ټول کور نه د نارو او فريادونو غږ اورېدل کېده، نورو کورنيو حيواناتو او الوتونکو مرغانو هم واورېده.

سپينې کوترې چې د حيواناتو او مرغانو په منځ کې د سولې کوترې په نامه باندې مشهوره وه، غږ وکړ:

وه سويه! طوطي ګله! زرې زرکې ! ژر راشئ چې جګړه ودروو.

ټول د جګړې ډګر ته ورسېدل. سپينې کوترې، «شينکی پشي»، شينګک، پينګک، تاج دارې چرګې او «ګلوګلو» چرګې ته په خطاب کې وويل: ولې يو له بله سره جګړه کوئ؟ جګړه ښه کار نه دی!

سوی هم دا غږ وکړ: وګورئ! سرونه او مخونه مو په وينو ککړ دي، بچيان مو ډار شوي دي.

سپينې کوترې خبرې اوږدې کړې: هو، بايد هغه دليل، چې د دې جګړې سبب شوی راپيدا کړو،چې دا جګړه هواره شي.

«ګلوګلو» چرګې چې سترګې يې هم له وينو ډکې شوې وې وويل : « شينکی پشي » زموږ آشپزخانې ته را ننوتې وه، غوښتل يې چې زما د بچيانو خواړه غلا کړي. کله چې ما د هغې مخه نيوله، له ما سره يې جنګ وکړ.

«شينکی پشې» چې يوه سترګه يې ډېره پړسېدلې وه؛ وويل: زه وږې شوې وم. بچيان مې هم وږي شوي وو. بايد هغو ته مې خواړه ور وړي واي.

سپينې کوترې وويل: ولې کار نه کوې چې په خپله خواړه پيدا کړې؟ «ګلوګلو» چرګه هره ورځ هګۍ اچوي او له دې لارې خپلو بچيانو ته خواړه برابروي.

«شینکۍ پشي» ووېل: زه هم کار کوم، مګر یو څو ورځې کېږي چې بېکاره شوې یم. بچیان مې وږي شوي دي.

تاجدارې چرګې ووېل : په دې حالت کې دې ، باید له « ګلوګلو» چرګې نه مرسته غوښتې وای. که هغې ته دې ویلي وای چې بچیان مې وږي شوي دي، د ګاونډیتوب په دود یې هم خواړه درکول.

«شینکۍ پشي» وشرمېده او څه یې و نه ویل: «ګلوګلو»، چرګې ووېل: هو، که دې له ما اجازه اخیستې وای، ما به هېڅ نه و ویلي. ته به مې پرې اېښې وې چې خپلو بچیانو ته خواړه یوسې! سپینې کوترې په خپلو کوځرونو باندې چکچک وکړ او داسې و ویل : و مو لیدل، چې په خبرو کولو سره مو ستونزه حل شوه. اوس هر وخت، د تاسې هر یو چې اړتیا ولرئ، کولی شئ، له یو بل نه مرسته وغواړئ.

تاجدارې چرګې یوه پاکه ټوټه را پیدا کړه، د «ګلوګلو» چرګې زخمونه یې پرې ور وتړل. همدا شان یې، له «شینکۍ پشي»، شینګک او پینګک سره چې ژوبل شوي وو، مرسته وکړه چې خپل زخمونه پاک کړي. سوی په یوه ګازره باندې خوله ولګوله او وې ویل: ډېره ښه شوه چې جګړه پای ته ورسېده. زه وږی شوی یم ،باید یوه ګازره وخورم. تاسې ته هم دا ښه ده، چې خپل خواړه وخورئ.

«ګلوګلو» چرګې غږ وکړ: چونچې! مونچې! میچې! کیچې! لیچې! ریچې! زوچې! سیچې! پیچی ! تیچې! راځئ، چې له « شینکۍ پشي »، شینګک او پینګک سره یو ځای، خواړه وخورو. د سپینې کوترې او زرې زرک لپاره هم، یو څه غنم راوړئ.

تاجدارې چرګې په خندا سره غږ وکړ: د « شینکۍ پشي » بچیان مو له یاده و نه وځي. هغه تر اوسه پورې ډېر کوچني دي، نه شي کولای د باندې ولاړ شي، هغو ته هم خواړه ورورئ.

«ګلوګلو» چرګې، له « شینکۍ پشي » نه ، په ډېرې مهربانۍ سره پوښتنه وکړه، چې بچیان دې څه نومېږي ؟

«شینکۍ پشي» ووېل: چونچو، مونچو، میچو، کیچو، لیچو، ریچو، زوچو، سیچو، پیچیو او تیچو!

ټولو له یو بل سره وخندل او وې ویل :

باید له دې وروسته چونچې، مونچې، میچې، کیچې، لیچې، ریچې، زوچې، سیچې، پیچې ، تیچې او چونچو، مونچو، میچو، کیچو، لیچو، ریچو، زوچو، سیچو، پیچیو او تیچو له یو بل سره یو ځای لوبې وکړي.

«ګلوګلو» چرګه ډېره عصبي شوه، چیغه یې وکړه: زما بچیان زما په شان مور لري. ته هغه نه شې خوړلی. څه، وڅه، زما له کوره ژر وڅه. که دې زما په بچیانو باندې سترګې سرې کړې، زه به دې دواړه شنې سترګې، په خپله سپینه مښوکه باندې، د سر له کاسې د باندې را وباسم.

«شینکۍ پشي» د «ګلوګلو» چرګې د دغو خبرو په اورېدلو سره پرهغې باندې برید وکړ. «ګلوګلو» پورته والوته، په خپلو پنجو سره یې د « شینکۍ پشي » پر مخ حمله وکړه. د « شینکۍ پشي » د وریځو پاسنۍ برخه زخمي شوه او د (( میو میو میو )) چیغه یې وکړه:

وه شینګکه! وه پینګکه! راشه وګوره، «ګلوګلو» چرګه له ما سره جګړه کوي.

شینګک او پینګک چې د «شینکۍ پشي» ډېر نږدې دوستان وو او پنجې یې د کوني کبر(خرچنګ) په شان وې، د بام له سره دکور منځ ته ور والوتل. هغوی هم وغوښتل، چې په «ګلوګلو» چرګه باندې برید وکړي. «ګلوګلو» چرګې، سملاسي خپلې مور ته چې «د تاجدارې چرګې» په نامه باندې یادېده او د بوټو شاته ویده شوې وه، ور نارې کړې:

تاجدارې مورې! هله ژر راشه، پشیانو زما په کور باندې برید کړی دی.

تاج لرونکې چرګې چې د خپلې لور دا سوی غږ او د نا هیلی چغې او نارې اورې؛ له خپله ځایه الوزي او په ډېرې چټکتیا سره، خپل ځان د« ګلوګلو» چرګې او پشیانو منځ ته وراچوي. «ګلوګلو» چرګه او تاج داره مور یې له یوې خوا،« شینکی پشي » شینکک او پینکک له بله پلوه، یو د بل په وړاندې کتارونه جوړوي او جګړه دوام پیداکوي. تاج دارې چرګې، شینکک او پینکک ، تر خپلو پنجو د لاندې کړل او « ګلوګلو» چرګې په خپلې مښوکې سره ، د « شینکی پشي » پر شا باندې، یو څو ګوزارونه وکړل.

له ټول کور نه

د نارو او فریادونو غږ اورېدل کېده، نور وکورنیو حیواناتو او الوتونکو مرغانو هم واورېده.

سپینې کوترې، چې د حیواناتو او مرغانو په منځ کې ، د سولې کوترې په نامه باندې مشهوره وه، غږ وکړ:

وه سویه! طوطي ګله! زرې زرکې ! ژر راشئ، چې جګړه ودروو.

ټول د جګړې ډګر ته ورسېدل. سپینې کوترې، « شینکی پشي »، شینکک، پینکک، تاج دارې چرګې او « ګلوګلو» چرګې ته په خطاب کې وویل: ولې یو له بله سره جګړه کوئ؟ جګړه ښه کار نه دی!

سوی هم دا غږ وکړ: وګورئ! سرونه او مخونه مو په وینو ککړ دي، بچیان مو ډار شوي دي.

سپینې کوترې خبرې اوږدې کړې: هو، باید هغه دلیل، چې ددې جګړې سبب شوی راپیدا کړو، چې دا جګړه اواره شي.

«ګلوګلو» چرګې، چې سترګې یې هم له وینو ډکې شوې وې؛ وویل: «شینکی پشي » زموږ آشپزخانې ته را ننوتې وه، غوښتل یې، چې زما د بچیانو خواړه غلا کړي. کله چې ما د هغې مخه نیوله، له ما سره یې جنګ وکړ.

«شینکی پشې»، چې یوه سترګه یې ډېره پړسېدلې وه؛ وویل: زه وږې شوې وم. بچیان مې هم وږي شوي وو. باید هغو ته مې خواړه ور وړي وای.

سپینې کوترې وویل: ولې کار نه کوې، چې په خپله خواړه پیدا کړې؟ «ګلوګلو»  چرګه هره ورځ هګۍ اچوي او له دې لارې، خپلو بچیانو ته خواړه برابروي.

«شینکی پشي» وویل: زه هم کار کوم، مګر یو څو ورځې کېږي، چې بېکاره شوې یم. بچیان مې وږي شوي دي.

تاجدارې چرګې وویل: په دې حالت کې دې ، باید له « ګلوګلو»  چرګې نه مرسته غوښتې وای. که هغې ته دې ویلي وای، چې بچیان مې وږي شوي دي، د ګاونډیتوب په دود یې هم خواړه درکول.

«شینکی پشي» وشرمېده او څه یې و نه ویل: «ګلوګلو»  چرګې وویل: هو، که دې له ما اجازه اخیستې وای، ما به هېڅ نه و ویلي. ته به مې پرې ایښې وې، چې خپلو بچیانو ته خواړه یوسې! سپینې کوترې په خپلو کوځرونو باندې چکچک وکړ او داسې و ویل: و مو لیدل چې په خبرو کولو سره مو ستونزه حل شوه. اوس هروخت، د تاسې هر یو چې اړتیا ولرئ، کولی شئ، له یو بل نه مرسته وغواړئ.

تاجدارې چرګې یوه پاکه ټوټه را پیدا کړه، د «ګلوګلو» چرګې زخمونه یې پرې ور وتړل. همداشان یې، له «شینکۍ پشي»، شینګک او پینګک سره چې ژوبل شوي وو، مرسته وکړه چې خپل زخمونه پاک کړي. سوی په یوه ګازره باندې خوله ولګوله او وې ویل: ډېره ښه شوه، چې جګړه پای ته ورسېده. زه وږی شوی یم، باید یوه ګازره وخورم. تاسې ته هم دا ښه ده چې خپل خواړه وخورئ.

«ګلوګلو» چرګې غږ وکړ: چونچې! مونچې! میچې! کیچې! لیچې! ریچې! زوچې! سیچې! پیچې ! تیچې! راځئ، چې له «شینکۍ پشي»، شینګک او پینګک سره یو ځای، خواړه وخورو. د سپینې کوترې او زرې زرک لپاره هم، یو څه غنم راوړئ.

تاجدارې چرګې په خندا سره غږ وکړ: د «شینکۍ پشي» بچیان مو له یاده و نه وځي. هغه تر اوسه پورې ډېرکوچني دي، نه شي کولای د باندې ولاړ شي، هغو ته هم خواړه ورورئ.

«ګلوګلو» چرګې له«شینکۍ پشي» نه په ډېرې مهربانۍ سره پوښتنه وکړه چې بچیان دې څه نومېږي ؟

«شینکۍ پشي» وویل: چونچو، مونچو، میچو، کیچو، لیچو، ریچو، زوچو، سیچو، پیچیو او تیچو!

ټولو له یو بل سره وخندل او وې ویل :

باید له دې وروسته چونچې، مونچې، میچې، کیچې، لیچې، ریچې، زوچې، سیچې، پیچې ، تیچې او چونچو، مونچو، میچو، کیچو، لیچو، ریچو، زوچو، سیچو، پیچیو او تیچو له یو بل سره یو ځای لوبې وکړي. )) (۴: ۱ مخ)

## پایله

فابل حکایتونه او کیسې په سیمه او نړۍ کې ډېر مینه وال لري او د دغې ادبي نوعې د لیکلو په اړه ډېر تیوریک بحثونه هم ترسره شوي دي. د پښتو ادبیاتو په نظم او نثرکې دواړو کې فابلونه شته او ګڼ شمېر علاقمندان هم لري، مګر د فابل حکایتونو او کیسو په اړه وړ او مناسب تیوریک بحثونه نه و تر سره شوي. په دې مقاله کې په پښتو ادبیاتو کې د فابل ونډه یوڅه روښانه شوه. اوس درانه لوستونکي په پښتو ادبیاتو کې د فابل ځای ځایګي او مقام په اړه ښه پوهېدی شي چې فابل کیسه که په نظم کې وي او یا په نثر کې، د حکایت طرز لري او رمزي داستان دی چې هر یو په خپل خپل ځای کې خپل خوند، کیف او پند لري. د حیواناتو په خولو زیاتره ویل شوې کیسې چې په تېرو وختونوکې لیکل شوې، د دې څرګندوی دي چې پوهانو او اهل قلم کسانو، له فابل کیسو نه د خپلو نظرونو د ښکاره کولو او د نېش لرونکو ټولنیزو نیوکو په برخه کې ډېره ګټه اخیستې ده.

## وړاندیزونه

۱. فابل د حیواناتو په ژبه د حکایتونو طرز اورمزي کیسو بیان دی چې د ټولنې ځینې ناخوالې ډېرې ښې په کې بیانیدی شي. له دې امله زه وړاندیز کوم چې شاعران او ادیبان دې په خپلو شعرونو او ادبیاتوکې د فابل ادبي نوعې ته ځانګړې پاملرنه وکړي او په راتلونکي کې دې د فابل حکایتونو اوکیسو له لارې، زموږ پښتو ادبیات لا شتمن او بډای کړي.

۲. په دې اړه زما دویم وړاندیز دا دی چې ما په دغې مقالې کې د فابل په اړه تیوریک او نظریاتي بحث کړی او په نظم او نثر دواړو کې مې د فابل نمونې هم وړاندې کړې دي، مګر دتمثیل د یوې بلې نوعې پارابل (Parable) په اړه چې په ادبیاتو کې مثال راوړل، مثال تېرول او مثال ګویي ده، د سیمې او نړۍ په ادبیاتو کې ګڼې لیکنې او تیوریک بحثونه ترسره شوي دي، ځوان څېړونکي دې په پښتو ادبیاتوکې د پارابل (Parable) په باب څېړنه وکړي او بېلګې دې هم وړاندې کړي.

## مأخذونه


۱. احمدزی، محمد آصف. په پښتو ادب کې طنز، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: شمشاد هاشمي مطبعه، کابل، ۱۳۹۷ل کال، ۹۷مخ.

۲. حمیدالله، محمدشاه. د شپېلۍ ترجمان، د افغانستان قلم ټولنه: افغان مسلکي مطبعه، کابل، ۱۳۸۶ل کال، ۵۹ مخ .

۳. شمیسا، سیروش. انواع ادبی، ((حروفچیني گنجینه)): لسم چاپ، تهران، ۱۳۸۱ل کال،۲۷۲ مخ.

۴. صلاحي، محمد نبي. چرګه او پشي، د افغانستان قلم ټولنه او د ناروې کمېټه: افغان مسلکي مطبعه، کابل، ۱۳۹۸ل کال، ۱مخ.

۵. لایق، سلیمان. قصې او افسانې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز: ګوندي مطبعه،کابل، ۱۳۶۱ل کال، لومړی مخ.

۶. ملک محمدی، ناهید. فابل در مرزبان نامه،کلید واژه ها، ایران،کرد ښار، د روزنه چاپ: ۱۳۸۸ل کال، ۶۳۷ مخ.

۷. نوراني، جلال. هنر طنزپردازی (لومړی او دویم کتاب)، د بیهقی کتاب خپرولو مؤسسه، د آزادۍ مطبعې لوی ریاست: کابل، ۱۳۹۱ل کال، ۵۰۶ مخ .